WWW.CSRSKABUL.COM

# مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
# د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ٦٥ (از ١٦ الی ٢٣ حمل ١٣٩٣ هـ ش)**

این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

## انتخابات ١٦ حمل؛ موفقیت‌ها و چالش‌ها


- مقدمه ........................................ ٣
- دلیل اشتراک گستردۀ مردم در انتخابات ........................................ ٣
- نگرانی قومی شدن انتخابات در دور دوم ........................................ ۴
- بزرگترین چالش در برابر حکومت آینده ........................................ ۴

# د ټاکنو شفافيت او په اړه يې مثبت تبليغات


- مقدمه ............................................................................................ ٦
- شفافيت............................................................................................ ٦
- د خلکو ګډون...................................................................................... ٧
- دويم پړاو ته تګ.................................................................................. ٨
- له راتلونکي حکومت څخه شته تمې.................................................... ٩







# انتخابات ۱٦ حمل؛ موفقیت‌ها و چالش‌ها

## مقدمه

سومین انتخابات ریاست جمهوری پس از سرنگونی رژیم طالبان در افغانستان، به تاریخ ۱٦ حمل سال ۱۳۹۳ خورشیدی در سراسر کشور برگزار شد و افغانها برای انتخاب دومین رئیس جمهور خود پس از سرنگونی حکومت طالبان در سال ۲۰۰۱ میلادی، به پای صندوق‌های رأی رفتند.

قرار است نتائج ابتدایی بتاریخ چهارم ماه ثور و نتایج نهایی بتاریخ ۲٤ ماه ثور اعلان شود، اما گمان می‌رود که هیچ کدام از نامزدها نتوانند، بیش از ۵۰ درصد آراء را کسب کنند، چون تعدد نامزدان و پراکنده شدن آرای مردم، انتخابات را به دور دوم خواهد کشانید.



پروسهٔ انتخابات با سلسله مشکلاتی نیز همراه بود و بر اساس گزارش‌ها شماری زیادی از موارد تقلب را کمیسیون سمع شکایات انتخاباتی ثبت نموده و همچنان ارگان‌های امنیتی از صدها حملهٔ مسلحانه بر مراکز انتخاباتی در روز انتخابات و کشته و زخمی شدن ده‌ها سرباز افغان سخن می‌زنند؛ اما با وجود همه مشکلات، گفته می‌شود که این بار میزان اشتراک مردم نسبت به دوره‌های پیشین گسترده تر بود.

وحید مژده آگاه امور سیاسی همین موضوع را در جواب پرسش‌های مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تحلیل کرده است:

## دلیل اشتراک گستردهٔ مردم در انتخابات

اینکه گفته می‌شود در انتخابات ۱٦ حمل اشتراک مردم نسبت به انتخابات دوره‌های سابق گسترده تر بوده، شاید دو دلیل داشته باشد. اول اینکه در دو انتخابات گذشته حامد کرزی نامزد بود و همه مردم فکر می‌کردند که رأی آنها جایی خاصی را نخواهد گرفت و حامد کرزی رئیس جمهور خواهد شد، به همین دلیل اشتراک مردم در آن کمرنگ بود. اما این بار حامد کرزی از جملهٔ نامزدان نبود و مردم در فکر آیندهٔ افغانستان افتیدند و یک نوع احساس هراس از آینده بوجود آمد و دوم اینکه یک نوع ذهنیت سازی هم شد که این انتخابات برای

**آیندۀ افغانستان و برای سرنوشت فرد فرد افغانستان بسیار مهم است، به همین دلیل مردم نسبت به گذشته در این انتخابات بیشتر شرکت کردند.**

**پس از برگزاری انتخابات و پیش از اعلام نتائج ابتدایی آن، در حالیکه تاهنوز از طرف کمیسیون انتخابات به صورت رسمی و یا غیر رسمی نتیجۀ انتخابات اعلام نشده است شماری از نامزدان ریاست جمهوری خود را برنده می‌دانند و این موضوع نشان می‌دهد که نتائج انتخابات به نامزدان بازنده قابل قبول نخواهد بود و یک نوع کشمکش ایجاد خواهد شد. این موضوع باعث آن می‌شود که نامزدان دیگر به نحوی احساس کنند که در انتخابات تقلب صورت گرفته است. در این شکی نیست که بعضی از نامزدان پیشتاز هستند و بیشتر از نامزدان دیگر رأی گرفتند، اما اینکه بعضی از آنها ادعا می‌کنند که انتخابات به دور دوم نمی‌رود و در دور اول به نتیجه می‌رسد، خود این مسئله سوال برانگیز است و ایجاب آنرا می‌نماید که کمیسیون انتخابات در این مورد تصمیم بگیرد، نه کسانیکه نامزد هستند.**

## نگرانی قومی شدن انتخابات در دور دوم

**از سوی دیگر به دلیل تعدد نامزدان و پراکنده شدن آرای مردم احتمال رفتن انتخابات به مرحلۀ دوم نیز است و اگر یکی از نامزدان آرای (۱+۵۰) را کسب ننماید، انتخابات به دور دوم کشیده خواهد شد و مشکلات و چالش هایی را در پیشرو خواهد داشت.**

**اما نگرانی اصلی که از رفتن انتخابات به دور دوم وجود دارد، این است که مبادا انتخابات برود به طرف قومی شدن، ولی انتظار می‌رود که جلوگیری قومی شدن انتخابات گرفته شود، چون قومی شدن انتخابات می‌تواند برای آیندۀ افغانستان ناگوار باشد.**

## بزرگترین چالش در برابر حکومت آینده

**بزرگترین چالش و بزرگترین مشکلی که حکومت آینده هم با آن روبرو خواهد بود، مسئلۀ صلح و امنیت است؛ چون پروسۀ صلح در دورۀ گذشته به نتیجه‌ای نرسید.**

**تعامل حکومت آینده با نیروهای خارجی، سرنوشت صلح را تعیین می‌کند، اگر حکومت آینده نتواند به اندازۀ حامد کرزی در برابر خودسری‌های نیروهای خارجی مقاومت کند، بسیار زود این حکومت هم دچار مشکلات خواهد شد؛ اما اگر استقلالیت را از خود نشان دهد و بتواند جلو خودسری‌ها را بگیرد، شاید چانس بهتری داشته باشد.**

**از سوی دیگر همان طوریکه گفته می‌شد، بدون شک کشورهای خارجی و خارجی‌ها به صورت غیرمستقیم در پروسۀ انتخابات سهم داشتند و درگیر بودند و گمان می‌رود که از تیم‌های مختلف انتخاباتی حمایت کردند، تا هزینه‌های کارزارهای وسیع انتخابات را بپردازند، در این شکی نیست که کشورهای خارجی به صورت غیرمستقیم در این انتخابات دست داشتند، اما به هر حال تقلباتی که صورت گرفت خود افغانها نیز در آن شریک هستند و کمیسیون انتخابات هم متهم است. کمیسیون انتخابات باید در این رابطه پاسخ دهد و همانطوری که وعده داد که رأی تقلبی را از رأی شفاف جدا خواهد کرد، امید است این کار صورت بگیرد ولی در غیر آن طبعی است که نتیجۀ انتخابات زیر سوال می‌رود.**

# د ټاکنو شفافیت او په اړه یې مثبت تبلیغات

## مقدمه

تر ټاکنو وړاندې د بهرنیانو د لاسوهنې په اړه، د پخوانیو ټاکنو تجربو ته په کتو سره، زیاتې اندېښنې موجودې وې او داسې انګېرل کېده، چې په ټاکنو کې به پراخې درغلۍ وشي او د ټاکنو مشروعیت به په پراخه کچه تر سوال لاندې راولي.




دا چې د ورې د شپاړسمې نېټې ټاکنې د شفافیت له پلوه څرنګه وې؟ همدا موضوع او تر څنګ یې ځینې نورې پوښتنې د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د رئیس دوکتور عبدالباقي امین په تحلیل کې ځواب شوې دي:

## شفافیت

په ټولیز ډول ویلای شو، چې کېدای شي د تېرو ټاکنو په پرتله به په دغو ټاکنو کې شفافیت یو څه زیات و، چې لاملونه به یې هم ښايي په ډېری سیمو کې په ټاکنیزو مرکزونو کې د نوماندانو د استازو او څارونکو فعال حضور او د ټاکنو د کمیسیون د نوو کړنلارو پلي کېدل وي.

خو دا چې په ځینې سیمو کې داسې راپورونه هم ورکړل شول، چې د رایو صندوقونه مخکې له مخکې ډک شوي وو، دا او دې ته ورته موارد د ټاکنو پر شفافیت اغېز وکړ. له بلې خوا په هېواد کې جګړه روانه ده او په داسې یوه حالت کې په ټاکنو کې د ګډون زمینه محدوده وه او خلک په ډېری سیمو کې ټاکنیزو مرکزونو ته د تګ پر مهال له ګواښونو سره مخ وو.

په ناامنو سیمو کې دا خبره باوري ده چې خلک د رایې اچونې مرکزونو ته چې ادعا کېږي، نه دي تللي او صندوقونه په ناسم ډول ډک شوي دي؛ خو دا موضوع په رسنیو کې تر ډېره ونه څېړل شوه؛ ځکه که څه هم اوس په افغانستان کې د بیان ازادي شته ده؛ خو په عمومي ډول لاهم پر رسنیو یو څه سانسور شته دی او رسنیو ته دا ویل شوي وو، چې د ټاکنو په اړه به منفي خبرونه نه خپروي، چې په منفي خبرونو کې د امنیتي ستونزو تر څنګ د درغلیو زیاتوالی هم دی.

## د خلکو ګډون

دا چې په تېرو ټاکنو کې د پخوانیو ټاکنو په پرتله د خلکو د پراخ ګډون خبره کېږي، نو لومړی خو پوښتنه دا ده چې ایا په ټاکنو کې د خلکو ګډون په رښتیا هم همدومره پراخ و او که نه؟ یوازې د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې ۱۳ ولایتونه ناامن ښودل شوي وو او په هغو ۱۳ ولایتونو کې د رایې اچونې مرکزونو ته د خلکو ورتګ ناشونی و، د دې ترڅنګ په ځینې ناامنو ولایتونو کې د زیات شمېر مرکزونو د شتون خبره کېږي، په داسې حال کې چې هلته د رایې اچونې شونتیا نه لیدل کېده او د ټاکنو خپلواک کمیسیون هم د بندو مرکزونو نومونه په ډاګه نه کړل او دا څرګنده نه شوه، چې په هغو سیمو کې چې هلته د ټاکنو امکان نه و، خو مرکزونه یکې پرانېستي اعلان شوي وو، د رایو صندوقونه ډک شوي او که نه، که په دغو سیمو کې رایې اچول شوې وي، نو شفافیت یې تر پوښتنې لاندې دی او هغه رایې باطلې دي. ځکه نو که دا ډول رایې هم شمېرل شوې وي، نو بیا د اووه میلیونه وګړو د ګډون خبره هم ناسمه ده. له بله پلوه په افغانستان کې د رایې اچونې وړ کسانو شمېر دولس میلیونه تنه ښودل شوی، نو دا چې په دغو ناامنو ولایتونو او د باامنه ولایتونو په ولسوالیو کې خلکو رایه نه ده ورکړې، که د دغو سیمو وګړي هم د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا په ورکړل شوو شمېرو کې شامل وي، نو دا شمېرې به بیا ناسمې وي.

مګر که په ټاکنو کې په رښتیا هم دا ځل د خلکو د ګډون کچه زیاته وي، ښایي څو لاملونه به ولري. لومړی خو په ټاکنو کې د خلکو د زیات ګډون لامل دا و، چې دا ځل د قیادت بدلون حتمي و او له همدې امله

خلک ټاکنو ته لېوال وو. بل دا چې د ولسمشرۍ نوماندانو هم پراخ کمپاینونه وکړل او له خلکو سره یې ژمنې وکړې، چې د بدلون غوښتونکي دي. د پروسې افغاني کېدل به یې هم کېدای شي بل لامل وي او تر څنګ یې په افغانانو کې د سیاسي پوهې د لوړوالي ښکارندويي هم کوي، چې ګویا افغانان اوس دې ته لېوال دي چې د خپل هېواد د ولسمشر په ټاکلو کې برخه واخلي او د راتلونکي په اړه مثبت فکر وکړي، خو په ټولیز ډول دا یو مثبت ټکی بلل کېدای شي، چې په افغانانو کې دا فرهنګ بنسټیز شي چې د واک لېږد په سوله ییز ډول ترسره شي.

## دویم پړاو ته تګ

د نوماندانو زیات شمېر او د رایو د تیت پرک کېدلو له امله دویم پړاو ته د ټاکنو د تګ شونتیا هم شته ده او که یو نوماند هم (۱+۵۰) رایې پوره نه شي کړای او ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي، نو کومې ستونزې چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې وې، په دویم پړاو کې به هم د ټاکنو بهیر ورسره مخامخ وي او ترڅنګ یې اقتصادي ستونزه هم ده، چې د افغانستان دولت به د بودیجې له پلوه هم له ستونزو سره مخ شي.

د دې تر څنګ په دویم پړاو کې د قومي، ژبنیو او سمتي تبلیغاتو او ټولنیزې ګډوډۍ اندېښنې هم شته دي، ځکه له بده مرغه په لومړي پړاو کې هم په رایو ورکولو او رایو اخېستلو دواړو کې ژبنیو او قومي تمایلاتو رول درلود، خو له دې سره سره په دویم پړاو کې دا اندېښنه ډېره هم جدي نه ده، چې په پایله کې یې شخړې او ټولنیزه ګډوډي رامنځته شي.

## له راتلونکي حکومت څخه شته تمې

راتلونکی حکومت باید د جگړې پای ته رسولو او د روغې جوړې په برخه کې هغه تشه ډکه کړي، چې له تېرې دورې څخه يې په ميراث اخېستې ده او ټول افغانان پر ځان راټول کړای شي، ترڅو د بهرنيو لاسوهنو مخه هم ونيول شي او په هېواد کې د بهرنيانو د شتون اړتيا له منځه يوسي. دويم هم اقتصادي ستونزه ده او د افغانانو اقتصاد باید په خپلو پښو ودرېږي، په صنعتي او کرنيزه برخه کې باید کار وشي او افغانستان په خپلو عايداتو بسيا شي؛ د باتحصيله وګړو په تېره ځوان پاړکي لپاره کاري زمينې برابرې شي، ترڅو د جرمونو، د نشه يي توکو د کارونې او نورو ټولنيزو ستونزو کچه راټيټه کړي.

دريمه ستونزه دا ده چې په تېره دوره کې په ډېرى برخو کې کار اهل کار ته نه و سپارل شوی او د شخصي اړيکو له مخې خلک گومارل کېدل او راتلونکی حکومت باید تخصص ته اهميت ورکړي. بل هم د قانون تطبيق دی چې تراوسه په ټولو ادارو کې قانون تر پښو لاندې کېږي او اداري فساد اوج ته رسېدلی دی، حتی څوک چې د پاک او شفاف کار اراده ولري هغه په کومه اداره کې نه شي پاتې کېدلی او راتلونکی حکومت باید له دې ستونزې سره جدي مبارزه وکړي. پای